مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق ۲۰۲۶/۰۲/۱۶

# اخلاق په تياره کي

## قصه په سلو ټکو کي

څه موده دمخه د اخلاقياتو له معلم سره مو د دولت پر مکلفيت او ګرانۍ بحث سو. ما ويل:

«که لوږه د عزت ستونی نيسي، نو انسان خورد و برد جرم نه، بلکه د بقا هڅه بولي.»

استاد وويل:

«خورد و برد يعني غلا، او غلا حرامه ده، بنه دئ انسان صادق مړ سي، په زنګ وهلي روح دي ژوند نه کوي.»

هفته وروسته د برېښنا د غلا په تور ونيول سوم. په حوزه کي مي د برق په غلو کي استاد هم وليد، پټو ئي پر سر را کش کړ. استاد مخ پټ کړ، د نظام څېره بر بنډه سوه.

محمدسمیع صادق



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولــئ